دوکتور م ، ع ، تره کی


۲۳ جون ۲۰۱۱

# د جنگی اسیرانو اعدام
# د دیموکراسی بل سوغات

### ۱ ـ حقوقی موازین :

د نړیوال حقوقو له نظره جګړه د دولتونو تر منځ نښتی ته ویل کیږی . د جګړی حقوق د نوموړی نښتی زیږنده پروبلمونه تنظیموی .

غټ سؤال دا دی چه کله چه جګړه د « دولتونو تر منځ د ټکر » په بڼه وپیږنو ، د دولت او وسله والومخالفینو تر منځ نښتی ته کومه حقوقی تعریف ورکولی شو ؟

د جګړی حقوق د وسله والو مخالفینو سره چه د کوم دولت تر حقوقی پوښښ لاندی قرار نلری څنګه چلند کوی ؟

په عمومی توګه وسله والو مخالفین د کوم دولت تر بیرغ لاندی او د کوم منظم فوځ تر قومانده لاندی جنګیږی نه . دوی د جګړی د قوانینو په وړاندی د احترام ژمنتوب نلری . اما د اخلاقی او مذهبی اصولو په رعایت مکلف دی . د وسله والو مخالفینو مقابل لوری خپل یا پردی دولت دی .

ـ په لمړی حالت کی وسله والو مخالفینو د برحال دولت له خوا اشرار ، باغی ، تروریست په نومونو باندی تکول او وربادی کورنی قانون مخکی له دی نه چه د رسمیت پیرندلی پیاوړتیا را پیدا کړی ، تطبیق کیږی .

ـ په دوهم حالت کی وسله والو مخالفینو د « مقاومت » حیثیت غوره کوی او باید د اشغالګرو ځواکونو له طرفه دوی سره د جګړی نړیوالو حقوقو په چوکات کی چلند وشی .

کله چه د مقاومت غړی د جګړی په ترڅ کی توقیف کیږی د « جنګی اسیر » په توګه د یو لړ حقونو څخه برخمن دی.

د جنګی اسیرانو حقوق د سلګونو کلونو راهیسی د « ژوس ان بلو » ( Jus in bello ) د اصل په بنسټ باندی تنظیم شویدی .

« ژوس ان بلو » د نړۍ په کچه د نړیوال انسانی حقونو ( Droit international humanitaire ) سرچینه ده .

د جینوا لمړی کانوانسیون (۱۸۶۴) په منازعاتو کی د انسانی حقونو د تنظیم لمړنی گام گنلی شو .

د جینوا دریم کانوانسیون (۱۹۴۹) او د هغه ضمایم پروتوکول (۱۹۷۷) غیر دولتی جگړه ماروته حقوقی ملاتړ ور په برخه کوی او دوی د « جنگی اسیرانو » په توگه د گن شمیر حقونو نه برخمن گنی (نمبر ۱ پروتوکول . ۴۳ او ۴۴ همه ماده) . د هغی جملی څخه : برائت ذمه ، د اعتراف په مقصد د شکنجی منع ، د دفاع د وکیل د درلودلو حق او نور .

د جنگی اسیر اعدامول په کلکه منع شوی دی (دریم کانوانسیون ۱۰۰مه ماده) .

مهمه خبره داده چه په هغه جگړه کی چه د وسله وال مقاومت په وړاندی بهرنیو قوتونه قرار لری (افغانستان غوندی) جنگی اسیرانوته نوموړی حقوقی تضمینات، باید د بهرنیو یرغلگرو قوتونو له خوآ ورویپژندل شی او د هغه د اجراء څارنه وشی . یعنی هغه قوتونه چه د جینوا د کانوانسیون یو اړخ جوړوی .

که د جگړه مارو د حقوقی حالت د څرنگوالی په اړه کوم شک بیدا شی، قضیه د ذیصلاح محکمی له خوأ فیصله کیږی .

جنگی اسیر د یرغلگر هیواد د دولتی اتوریته تر نفوذ لاندی په یوه «نظامی محکمه» کی تر محاکمی لاندی نیوړ کیږی (دریم کانوانسیون ۸۲ ، ۸۴ ، ۸۷ مه ماده) .

که جنگی اسیر د یرغلگر دولت تبعه نه وی، نظامی محکمه ورته د اعدام سزأ نشی ورکولی (دریم کانوانسیون ۱۰۰ مه ماده) .

په اکثر مواردو کی بهرنیان ترجیح ورکوی چه د ژنو کانوانسیونونو ، د حقوقی ملاحظاتونه پرته جنگی اسیر تر اشغال لاندی هیواد ته ونسپاری . دغه کار مختلف لاملونه لری.د هغی جملی څخه :

- د اشغال شوی هیواد د دولتی جوړښت نیمگړتیاوی .
- د جنگی اسیر اعدامول یا ورته د تبنتی زمینه برابرول .
- د اشغالگر ځواک له خوأ د جنگی اسیر نه استخباراتی معلومات تر لاسه کول .

خو سره له دی که جنگی اسیر اشغال شوی هیواد حکومت منگولوته ولویږی او ورباندی د اعدام حکم صادریږی ، باید اشغالگر دولت د نړیوال قوانینو د روحیی د احترام په خاطر مداخله وکړی .

د دی په مقصد چه د نوموړی مداخلی د پاره وخت تر لاسه شی ، د اعدام حکم باید د ۶ میاشتی د تیریدونه مخکی اجرأ نشی (دریم کانوانسیون ، ۱۰۱ مه ماده) .

### ۲ ـ په افغانستان کی د جنگی اسیرانو حقوقی حالت :

ناتو په ۲۰۰۱ کال کی یو دستورالعمل تنظیم کړ چه په هغه کی د جنگی اسیرانو سره د چلند څرنگوالی په گوته کیږی. دستور العمل په جگړه کی توقیف شوی کسان په دوه کته گوری ویشی :

جنگی اسیران او یاتی کسان .

جنگی اسیران په اتوماتیکه توگه د جینوا د دریم کانوانسیون تر پوښ لاندی د ځانگړی حقونو او امتیازاتو ځخه برخمن کیږی. توقیف شوی پاتی کسان تر هغه وخته پوری د ناتو د قواوو له خوأ ساتل کیږی چه د هغوی حقوقی حالت د یو ذیصلاح محکمی له خوأ روښانه شی .

په افغانستان کی د ناتو قواء د خپل ۲۰۰۱ دستور العمل خلاف تول جنگی اسیران بی له کوم مصونیتی ضمانت څخه افغان حکومت ته د دغه واقعیت په درک سره چه دوی شکنجه یا اعدام کیږی وسپارل ، ځکه چه :

ـ د ناتو اکثرو غړیو هیوادونه اروپایی اتحادیی ته منسوب وو . د اروپا په اتحادیه کی اعدام د قانون له خوأ منع دی .

ـ ناتو د ژنو د هغو کانوانسیونونه چه د جنگی اسیرانو اعدام منع کوی یو اړخ جوړوی .

ـ ناتو د شکنجی ضد کانوانسیون (۱۹۸۴) لاسلیک کونکی گڼل کیږی .

په کابل کی د اعدامونو لړی چه اصلاً سیاسی او قومی بنه لری ، لمړی وار په رسمی او بربنده توگه د ۲۰۰۸ م کال د نوامبر په میاشت ، افغانی نظام سره تړلی د ځینو کسانو چه د عامه حقوق جنایت کاران گڼل کیږی پیل او ورپسی ۳ تنه د مقاومت غړیو ( د لویدیزوالو په تعبیر طالبان ) شهیدان شول .

د جنگی اسیرانو په اعدام باندی په کابل کی د ملگرو ملتونو استازی او د افغانی د بشر د حقوقو کمسیون له خوأ اعتراضونه وشول . خو ناتو چه د اعدام د توطئی تر شأ ولاړ وو او د نړیوالو قوانینو له مخی د جنگی اسیرانو ساتنه په غاړه لری چوپه خوړه پاتی شوه .

### ۳ ـ د جنگی اسیرانو د اعدام نوی لړی :

په جلال آباد کی د کابل بانک د دوه برید کونکو اعدام په یو لحاظ د حقونو د اصولو سره اړخ نه لگوی :

د مخالفینو له نظره افغانستان د بهرنیانو تر اشغال لاندی دی : بهرنی لشکر د افغانی لوری له خوآ ندی راغوښتل شوی او د بهرنیانو نظامی حضور د افغانستان د نافذه قوانینو تر حکم لاندی قرار نلری . جگړه د ملی مقاومت او اشغالگرو قوتونو تر منځ مطرح کیږی . د مقاومت د زندانیانو سره باید د جنگی اسیرانو په توگه چلند وشی .

د جنگی اسیرانو د اعدام نوی پلاو پدغسی شرایطوکی مطرح کیږی چه په وروستی څو میاشتو کی سیاسی وده د وسله وال مقاومت نوموړی دریز حقانیت توجیه کوی :

پدی معنی چه د کابل حکومت اوبهرنیانو د مخالفینو سره د خبرو اترو د لاری ، هغوی په « دوفکتو » دول په رسمیت پیژندلی دی . دا احتمال شته چه په راتلونکی نږدی وختو کی « دوفکتو » په « دوژور » رسمیت پیژندنی بدله شی . په دواړو مواردو کی په جگړه ایزو حالاتو کی د وسله وال مقاومت اسیر شوی کسانو د نړیوالو قوانینو تر پوشش لاندی راځی . د جگړی اړخونو د جنگی اسیر د اعدام حق نلری .

په کابل بانک باندی برید په یو حالت کی یوه تروروستی عمل گڼلی شو او مرتکبین یی د اعدام سزآ وړ : هغه دا چه د برید موخه یو عام المنفعه مؤسسه یا ملکی کسان وی. (وسله وال مقاومت په خپل وروستی اعلامیه کی وژل شوی کسانو گرده فوجیان بولی . ویدیویی فلم که جعلی نه وی دغه څرگندونه نه تائیدوی).

خو دلته که وژل شوی کسانو ملکیان هم وشمیرو ، دا سؤال مطرح کیږی چه په تیرو لسو کلونو کی دا یوازی افغانی وسله وال مخالفین دی چه ملکیان وژلی ؟

آیا د افغانستان په کلیو او باندو کی د « دولتی تروریزم » د بمباریو له کبله په زرگونو بیدفاع ملکیانو په شهادت ندی رسیدلی ؟

امنیت شوراَ چه لس کاله کیږی چه په افغانانو باندی یوه غیر عادلانه جگړه تپلی ده چیرته ده چه د قربانیانو پوښتنه وکړی ؟

**نتيجه**

دری لسیزه کیڼی چه په افغانستان کی د جګړی اور بل دی . د کورنیو او بهرنیو اړخونو له خوآ په ارادی یا غیر ارادی توګه د جګړی د قوانینو نه د جنګی جنایت د ارتکاب تر حده پوری سرغړونه شویده . هیڅ یوه کورنی یا بهرنی مرجع د جنګی جنایتونو او بشری حقونو سرغړونکو ته د سزآ ورکولو په مقصد ندی ګمارل شوی . د جنایاتو په وړاندی بی انصافانه نه پاملرنه د تولنی د دفاعی نظام د کمزورتیا او د جرم او جنایت د استمرار په لامل بدل شویدی .

د کابل بانک د برید کونکو اعدام غمیزه پدی کی ده چه جنګی اسیران د کابل اداری له طرفه چه په کی د جنګی جنایاتو تورن کسانو ځاړه جوړه کړیده او د دیموکراسی او د بشر د حقوقونو د منادیانو له خوأ ملاتړ کیڼی په شهادت رسیڼی .

د مقاومت د غړیو اعدام دغه واقعیت په ګوته کوی چه د کابل اداره چه د جنګی دلو تپلو او ور سره ملاتړ بهرنیانو په لاس کی دی ، د مخالفینو سره د سولی په اړه صداقت او صلاحیت نلری .

موږ د سیاسی ثبات او د سلامتیا نه برخمنی یوه تولنه جوړولی نشو ، تر څو چه تروریستان ، جنګی جنایت کاران او د بشر د حقونو سرغړونکو ، که خپل وی یا پردی عدالت منګولو ته ونسپارو . خو دغه پروسه باید د حقونو د یو لړ اصولو په مراعاتولو سره پلی شی او د یو ستاندرد حقوقی او قضایی نظام په چوکات کی وی .

فرانسه

د جون ۲۱ ، ۲۰۱۱ م کال